مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۳/۱۰

# غـزل

چې مې تر پښو لاندې مېنلې، په آسمان به نه شي
د کاڼي کربنه مې تاریخ دی، ظلمه! وران به نه شي

ارمان چې لاړ شي په ارمان پسې ارمان نه کوو
له غیرت جوړ مې دا وطن دی، په بل شان به نه شي

زه په شملې او خړ څادر کښې ستر ویاړونه لرم
څو چې جهان وي، پښتون ورک له دې جهان به نه شي

واړه، زاړه یې ننګیالي دي، بې ننګي نه کوي
داسې قامونه وي ګټونکي، مات حیران به نه شي

یه پسرلیه خپلواکي د پښتنو فطرت دی
د بیواکۍ خزان کښې سیمه ګلستان به نه شي

مصطفی پسرلی
10/03/2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ